# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**25قوس _سال 1402**




اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


ایټالیا له راستنېدونکو مهاجرینو سره د صحت په برخه کې همکاري کوي ------------------------------------------1

بیش از هزار مهاجر ازپاکستان به وطن برگشت نمود ------------------------------------------------------------2

له درې زرو زیات اجباري راستنېدونکي په سپین بولدک کې د مؤظفو کمپټو له چوپړتیاوو برخمن شوي ------------2

23باب سرپناه در ولایت جوزجان به بهره برداری سپرده شد ------------------------------------------------------3

بلخ کې لسګونه کورنیو سره مرستې وشوې-------------------------------------------------------------------3

برای 200 تن در ولایت فاریاب و سایل پشم ریسی توزیع شد ------------------------------------------------------4

د پاکستان څخه له زرو زیات افغان مهاجر په جبري توګه وطن ته راستانه شول----------------------------------4

انګلیس کانال: د کډوالو د کښتی ډوبېدو پېښه کې یو تن مړ او یو تن ټپي شوی -------------------------------------5

فنلنډ له روسیې سره پوله بېرته وتړله-------------------------------------------------------------------------7

یونان: د کډوالو د کښتی ډوبېدو شپږ میاشتې وروسته لا هم پلټنو کې پرمختګ نه دی شوی--------------------------8

بریتانیا: پولیس درباره «مرگ ناگهانی» یک پناهجو در سرپناه شناور تحقیق می کند------------------------------11

حکم محکمه بریمن: قطع کمک های دولتی برای پناهندگان به کلیسا قانونی است --------------------------------15

ترس از اخراج دلیل معقولی نیست-------------------------------------------------------------------------16

# متن کامل اخبار

## ایټالیا له راستنېدونکو مهاجرینو سره د صحت په برخه کې همکاري کوي

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني تېره ورځ د ایټالیا له شارژدافیرې ناټالیا کوبنټاوېل او مل پلاوي سره په خپل کاري دفتر کې ولیدل

په پیل کې ښاغلي حقاني آغلې کوبنټاوېل او مل پلاوي ته د ښه راغلاست تر څنګ په پاکستان، ایران، ترکیې او یو شمېر نورو هېوادنو کې د مهاجرینو د وضعیت، ستونزو او تر اوسه پورې په اجباري توګه هېواد ته د راستنو شویو مهاجرینو په اړه معلومات ورکړل او زیاته یې کړه چې د اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې پوره امن او شفافیت راغلی او د آبادۍ په برخه کې ډېرې پروژې پیل شوې دي.

ښاغلي حقاني وویل: کوربه هېوادونه باید نړیوال قوانین مراعات کړي، په خپلو هېوادونو کې افغانان شکنجه او و نه ځوروي، شتمني یې ترې ضبط نه کړي او په اجباري ډول یې دې نه اخراجوي، دوی ته دې کافي وخت ورکړي تر څو په آبرومندانه توګه خپل هېواد ته راستانه شي .

د افغانستان له پاره د ایټالیا شارژدافیرې  وویل: ایټالیا له افغانستان سره له ډېر پخوا راهیسې ښې او نه شلېدونکې اړیکې لري، موږ هڅه کوو چې افغانستان له موجوده وضعیت څخه وژغورو او ور سره په بېلا بېلو برخو کې مرسته وکړو چې لومړیتوب مو د صحت په برخه کې دی، مونږ فعلاً د هغو افغانانو سره د صحت په برخه کې مرسته کوو چې له نورو هېوادونو څخه په خپله خوښه او یا جبري توګه راستانه شوي وي

آغلې کوبنټاوېل زیاته کړه مونږ غواړو چې په پاکستان، ایران، ترکیه او نورو هېوادونو کې د افغان مهاجرینو په کره شمېر وپوهېږو تر څو په راتلونکي کې له دوی سره په نورو برخو کې هم مرستې وکړو

همدا راز نوموړې ښاغلي حقاني ته د راستنېدونکو له پاره د هېواد په ټولو په ځانګړي توګه سرحدي ولایتونو کې د روغتونونو په جوړولو او په طبي وسایلو یې د مجهزولو ډاډ ورکړ.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## بیش از  هزار مهاجر ازپاکستان به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت



یک هزار و 236 تن مهاجر افغان به تاریخ 22 قوس از مرز های تورخم و سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.

به اساس گزارش آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار، 158 خانواده شامل 790 تن از مرز یاد شده طور جبری به و طن عودت نمودند. و پس ازثبت ریاست مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد، سازمان جهانی خوراک و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

وبرای هر خانواده مبلغ 10 هزار افغانی از جانب کمیته موظف نیز توزیع شد.

طبق یک خبر دیگر، به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار 89 خانواده که شامل 446  تن بودند، طور جبری از آن طریق به کشور برگشت نمودند.

به گفته آمر سرحدی تورخم، عودت کننده ها پس ازثبت در کمیته های موظف، جهت کمک بیشتر به دفاتر کمیشنری ملل متحد در امور پناهنده گان و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

## له درې زرو زیات اجباري راستنېدونکي په سپین بولدک کې د مؤظفو کمېټو له چوپړتیاوو برخمن شوي

د وزارت ویب سایت

۳ زره او ۷۰۳ تنه اجباري راستنېدونکي د لیندۍ په ۲۱مه د کندهار ولایت په سپین بولدک کې د مؤظفو کمېټو له چوپړتیاوو برخمن شوي دي.
د سپین بولدک د سرحدي آمر په خبره، ۲۲ کورنۍ چې ۱۱۴ تنه کېدل د ۳ بېلا بېلو  موټرو په وسېله هرات، ارزګان،

کابل، کندهار، او غزني ولایتونو ته لېږدول شوي دي او همداشان هرې کورنی ته ۳ زره افغانۍ ورکول شوې دي.
۱۴۴ کورنی چې ۸۴۴ تنه کېدل د مهاجرینو په آمریت کې له نوملیکنې وروسته د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې او دمهاجرت نړۍ وال سازمان ته ورپېژندل شوي دي.
۱۰۹ کورنیو سره ۱۰ زره افغانی نغدي مرستې شوې دي، یو زرو او ۷۰۰ تنو ته دوه وخته خواړه وېشل شوي، ۳۶۵ تنه ناروغان د تداوی لاندې نیول شوي او ۳۳۱ تنو ته سیمکارټونه وېشل شوي دي.

## 23باب سرپناه در ولایت جوزجان به بهره برداری سپرده شد

ویب سایت وزارت




به اساس گزارش ریاست امور مهاجرین ولایت جوزجان 23 باب سرپناه برای 23 خانواده که قبلاً در زیر خمیه زنده گی مینمودند با حضور معاون والی افتتاح و به تاریخ 22 قوس به بهره برداری سپرده شد.

به گفته رییس امور مهاجرین آن ولایت، سرپناه یادشده با هزینه 80 هزار افغانی به کمک مالی یکتن از بازرگانان کشور ترکیه اعمار شده که دارای دو اطاق و یک دهلیز معه فرش میباشد.

معاون والی، از اقدام این کار در جهت آسایش خانواده های مذکور ستایش نمود.

طبق یک خبر دیگر، برای 15 خانواده برگشت کننده اجباری از پاکستان در ولایت جوزجان 2 قطی روغن مایع 5 لیتره از جانب موسسه ثمر نیز توزیع شد.

## بلخ کې لسګونه کورنیو سره مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت




**د بلخ  ولایت د مهاجرینو ریاست د لیندی په۲۲ مه له ۸۰ اجباري راستنېدونکو کورنیو سره د نغدي ، خوراکي او غیر خوراکي مرستو د وېش خبر ورکړ.**

**یادې کورنۍ چې له وړاندې د دې ولایت د مهاجرینو د ادارې له لوري سروې او د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې ۱۱  راستنېدونکو کورنیو ته ۴ قلمه خوراکي توکي، د ژمني پوښاک کڅوړه او ۳ زره افغانۍ د دې ولایت د بېړنیو پېښنو د کمېټې له لوري او ۶۹ بېځایه شوو کورنیو ته ۲۰ زره او ۴۷۰ افغانۍ د ناروې د کډوالو شورا له لوري د یاد ولایت د مهاجرینو ریاست تر څار لاندې ووېشل شوې.**

## برای 200 تن در ولایت فاریاب  و سایل پشم ریسی توزیع شد

ویب سایت وزارت

**ریاست مهاجرین ولایت فاریاب از توزیع وسایل پشم ریسی برای  200 تن از خانم های بیجاشده وبی بضاعت درآن ولایت به تاریخ 22 قوس خبرداد.**

**افراد یاد شده توسط هیات امور مهاجرین آنولایت شناسایی شده بودند، پس از آن، سولر، ماشین پشم ریسی، بطری همراه با کنترولر به همکاری کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان با حضور نماینده ریاست مهاجرین توزیع گردید.**

## د  پاکستان څخه له زرو زیات  افغان  مهاجر په جبري توګه وطن ته راستانه  شول

د وزارت ویب سایت



یو زرو او 236 تنه افغان مهاجر د لیندۍ په 22مه د تورخم اوسپین بولدک له لارې په جبري توګه هېواد ته راستانه شوي.
د کندهار ولایت دسپین بولدک د مهاجرینو چارو د آمر په خبره په یادو راستنېدونکو کې 158کورنۍ، چې 790تنه کېږي له دې لارې په جبري توګه هېواد ته راستانه شوي دي او د مهاجرینو په اداري کې له نوملیکنې وروسته د مرستو د ترلاسه کولو په موخه، د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ، د مهاجرت او د خوړو نړۍ والو سازمانونو ته ور پېژندل شوي دی
همدارنګه هرې کورنۍ ته ۱۰ زره افغانۍ د مؤظفو کمېټو له لوري وېشل شوي دي.
د یو بل خبر له مخې؛ د ننګرهار ولایت د تورخم د سرحدي آمر په خبره89 کورنۍ چې 446 تنه کېدل له دې لارې په جبري توګه هېواد ته راستانه شوي دي.
دسرچینې په خبره راستنېدونکي د مهاجرینو په اداري کې له نوملیکنې وروسته د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د مهاجرت نړۍ وال سازمان او د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې ته ور وپېژندل شوي دي.

## انګلیس کانال: د کډوالو د کښتۍ دوبېدو پېښه کې یو تن مړ او یو تن ټپي شوی

مهاجرنیوز



د فرانسې او برېتانيا ترمنځ اوبو کې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښه کې يو تن مړ او يو تن ټپي شوی دی. له دې پېښې څخه ۶۴ کډوال ژغورل شوي دي. دغو کسانو غوښتل چې د سمندر له لارې ځانونه برېتانيا ته ورسوي.

انګليس کانال کې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښه کې يو ځل بيا يو مهاجر مړ او يو بل مهاجر په جدي توګه ټپي شوی دی. دا پېښه د پنجشنبې په شپه د ډېسمبر په ۱۵مه رامنځته شوه.

د مانش او شمالي سمندر قومندانۍ په يوه خبرپاڼه کې ليکلي چې د شپې په ۱۲ نيمو بجو د ګري نې د ژغورنې او نظارت سيمه ايز عملياتي مرکز ته د يوې داسې کښتۍ په اړه خبر ورکړل شو چې شاوخوا ۶۰ کډوالو پکې سپاره ول او ګرېولين ته څېرمه د ګران فور فيليپ په ۸ کيلومترۍ کې له ستونزې سره مخ شوې وه.

په خبرپاڼه کې زياته شوې ده، کله چې ژغورونکي سيمې ته ورسېدل، له يوه ټيوب څخه د بادې کښتۍ هوا وتلې وه او ځينې مهاجر اوبو ته غورځېدلي وو. دغو عملياتو کې چې پنځو بېړيو پکې ګډون درلود ۶۴ کډوال وژغورل شول چې دوه تنه يې بې هوښه وو. د قومندانۍ په وينا، له دغو دوو کسانو څخه يو تن يې ساه ورکړه او دويم کس چورلکه کې د کالې روغتون ته يوووړل شو .

د مانش او شمالي سمندر قومندانۍ د فرانسې خبري اژانس ته ويلي دي چې د احتمالي لادرکه شويو کسانو پسې لټون ادامه لري. ګومان کېږي چې دې پېښه کې دوه تنه لادرکه شوي دي.

بل پلو بیا یوتوپیا ۵۶ سازمان وایي چې نن جمعه د سهار له خوا ځینې نورې کښتۍ هم انګلیس کانال کې له ستونزې سره مخ شوې. دغه سازمان پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي چې ټوله شپه یې له اړمنو کسانو سره بېړنۍ مرستې رسولې دي.

د پا دو کالي قومندانۍ د فرانسې خبري اژانس ته ویلي وو چې نن سهار سنګات ساحل کې هم یو بل کډوال په جدي توګه ټپي شوی دی. د دې پېښې په اړه نور جزیات نه دي ورکړل شوي.

بیا ولولئ: »موږ څوک دی ته مجبورولی نه شو چې د فرانسوی څواکونو مرسته ومنی«

د ډوبېدو پر له پسې پېښې

د فرانسې او برېتانیا ترمنځ اوبو کې د کډوالو مړینه نوې خبره نه ده. د تېرې نومبر میاشتې په ۲۲مه دوه کډوال چې شاوخوا تر ۳۰ کاله یې عمرونه درلودل د پا دو کالي د نوفشاتل او اکین پلاژ په ساحلي اوبو کې د کښتۍ ډوبېدو پېښه کې ووژل شول. په دې کښتۍ کې ۶۰ مهاجر سپاره ول. پاتې ۵۸ کسان چې په ډله کې یې یوه ۷ کلنه ماشومه هم وه د ژغورونکو ډلې له خوا بولونی سور مېر بندر ته انتقال شوي وو .

همدارنګه د روان کال د اګست د میاشتې په ۱۲مه انګلیس کانال کې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښې شپږ افغانان وژلي وو. په ۲۰۲۱ کې هم انګلیس کانال کې د کښتۍ ډوبېدو له امله ۲۷ کډوالو خپل ژوند له لاسه ورکړی و.

بیا ولولئ: دان ساحل کې د احتمالي کډوال مړی موندل شوی

مرستندویه سازمانونه وایي د فرانسې په سواحلو کې د امنیتي ځواکونو شتون د دې سبب کېږي چې کډوال په ځان خطر ومني. دغه سازمانونه همدارز برېتانیا ته د تګ لپاره د خوندي او قانوني لارو پر نشتوالي نیوکه کوي.

د رسمي شمېرو له مخې، د روان کال له پیل راهیسې ۲۹ زره کډوال د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته اوښتي دي چې دا د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۳۵ سلنه (۴۴ زره) کموالی ښیي .

## فنلنډ له روسیې سره پوله بېرته وتړله

مهاجرنیوز

د فنلنډ حکومت اعلان کړی چې له روسیې سره پوله بېرته تړي. دا وروسته له هغه چې د پنجشنبې په ورځ د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه سرحدي لارې د څو ساعتونو لپاره پرانیستل شوې وې.

د فنلنډ د کورنیو چارو وزیرې ماري رانتانېن یوه پارلماني غونډه کې وویل: «[د کډوالۍ پدیده] یو ځل بیا پیل شوه نو ځکه [له روسیې سره خپله] ټوله پوله تړو«.

تمه ده چې له روسیې سره ګډه پوله د دېسمبر له ۱۵مې د ۲۰۲۴ د جنورۍ تر ۱۴مې نېټې پورې وتړل شي .هلسېنکي مسکو په دې تورنوي چې د فنلنډ د وضعیت د بې ثباتولو لپاره له کډوالو څخه ابزاري ګټه اخلي. دغه اروپایي هېواد وایي مسکو هڅه کوي فنلنډ کې، چې د ۲۰۲۳ په اپریل میاشت کې یې د ناټو غړیتوب ترلاسه کړی، سیاسي او امنیتي وضعیت بې ثباته کړي .

بیا ولولئ: فنلنډ له روسیې سره وروستۍ سرحدي لار وتړله

د فنلنډ لومړی وزیر پیټري اورپو د سه شنبې په ورځ یوې خبري غونډې ته ویلي وو، له روسیې سره دوه سرحدي پوستې پرانیستل کیږي. نوموړي زیاته کړې وه، غواړي ډاډه شي چې ایا وضعیت ښه شوی که نه. دغه سیاستوال ویلي وو د اړتیا په صورت کې به یادې لارې بېرته وتړل شي .

د دغو لارو تر پرانیستل کېدو وروسته د پولنډ پوله ساتو ځواکونو وویل چې په یوه ورځ کې نږدې ۴۰ کډوال له پولې څخه اوښتي دي او فنلنډ کې يې د پناه غوښتنه کړې ده .

د فنلنډ کارپلي سیمې مشر ارتور پارفنچیکوف د پنجشنبې په ورځ وویل، د نورو مسافرو په ډله کې ځینې کډوال هم لیدل کیږي چې غواړي پولنډ ته واوړي. هغه زیاته کړه» :زموږ ځواکونه د هغوی اسناد ګوري. هغه کسان چې پاسپورټونه يې له معیار سره برابر نه وي د پولیسو پوستې ته لیږدول کیږي... پاتې نور کولی شي چې له سرحده تېر شي«.

د کورنیو چارو وزیرې ماري رانتانېن په خبره، دا ښيي چې روسیه غواړي د فنلنډ پر وړاندې خپلو عملیاتو ته ادامه ورکړي. د نوموړې په وینا، روسي ځواکونه د کډوالو ډلې دې ته مجبوري چې له پولې تېرې شي.

له روسيې سره پر پوله نږدې زر کډوال

خو بل پلو روسیه بیا دغه ادعاوې ناسمې بولي. د روسیې د بهرنیو چارو وزارت ویاندې ماریا زاخاروا د فنلنډ د کورنیو چارو وزیرې د ویناوو په غبرګون کې ویلي دغه پلمې د منلو نه دي او د روسیې ضد احساسات راپاروي.

هلسینکي ادعا کوي چې په تېرو څو وختونو د هغو کډوالو شمېر زیات شوی چې له روسیې څخه ځانونه فنلنډ ته رسوي. چارواکي وايي چې له اګست راهیسې يې له روسیې سره پر پوله نږدې ۱۰۰۰ کډوال ثبت کړي دي .

بیا ولولئ :د روسیې او فنلنډ پر پوله لسګونه کډوال بند پاتې دي

تر دې دمخه چارواکو ویلي وو چې یوازې په یوه اونۍ د عراق، یمن، سومالیا او سوریې شاوخوا ۳۰۰ کډوال پیاده او یا پر بایسکېل له روسیې څخه د فنلنډ خاورې ته داخل شوي دي .

فنلنډ له روسیې سره ۱۳۴۰ کیلومتره ګډه پوله لري. هلسېنکي په ۲۰۲۲ کې اعلان کړی و په پام کې لري چې له روسیې سره پر پوله سرحدي دېوال جوړ کړي. هغه وخت د فنلنډ حکومت ویلي وو غواړي د احتمالي کډوالو د راتګ د مخنیوي په موخه له روسیې سره پر پوله د خنډونو د جوړولو لپاره خپل سرحدي قوانینو کې بدلون رامنځ ته کړي.

## یونان: د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو شپږ میاشتې وروسته لا هم پلټنو کې پرمختګ نه دی شوی

مهاجرنیوز



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



د بخښني نړیواله اداره او د بشري حقونو د څار سازمان وايي د اژې سمندر په پیلوس اوبو کې د کډوالو د کښتۍ له ډوبېدو شپږ میاشتې وروسته لا هم د یادې قضیې په پلټنو کې څه پرمختګ نه دی شوی. په دغه پېښه کې چې د جون په ۱۴مه رامنځته شوه تر ۵۰۰ زیاتو کډوالو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

د یونان په اوبو کې تر لویې غمیزې شپږ میاشتې وروسته د بخښنې نړیواله اداره او د بشري حقونو د څار سازمان وايي چې دغه پېښه کې د یوناني ځواکونو د مسولیت معلوملو کې رېښتنی پرمختګ نه دی شوی.

**د ۲۰۲۳ د جون په ۱۴مه یوه کب نیوونکې کښتۍ چې له لیبیا څخه د ایټالیا پر لور یې سفر پیل کړی و او شاوخوا ۷۵۰ کسان پکې سپاره ول د پیلوپونېز په اوبو کې ډوبه شوه.**

**له پېښې د ژوندي پاتو شویو کسانو په وینا، په دغه کښتۍ کې زیات شمېر سوریایان، پاکستانیان او مصریان سپاره ول. له دې پېښې څخه یوازې ۱۰۴ کسان ژغورل شوي او د ۸۲ تنو نورو جسدونه موندل شوي وو. ویل کېږي چې دغه حادثه کې تر ۵۰۰ زیاتو کسانو ژوند بایللی دی.**

**بیا ولولئ :یونان کې د سلګونو کډوالو د کښتۍ په ډوبېدو کې څه پېښ شول؟**




**په دغه ساحل کې د قربانیانو شمېر لیکل شوی: ۶۰۰ مړي. انځور: پېکچر الاینز**

**اندېښنې تر دغې انساني غمیزې یوه اونۍ وروسته د یونان سترې محکمې د پېښې د څرنګوالي د معلومولو په اړه د پلټنو امر کړی و. ځینو رسنیو د پېښې له کبله د یونان ساحلي ځواکونه ګرم بللي او زیاته یې کړې وه چې د کډوالو د ژغورنې عملیات یې له ځنډ سره پیل کړي دي.**

**د بخښنې نړیواله اداره او د بشري حقونو د څار سازمان په خپل راپور کې یونان کې د روانو قضایي تحقیقاتو په اړه اندېښنه ښيي او وايي چې پلټنو کې ربښتینې پرمختګ نه لیدل کېږي. دغه سازمانونه د عیني شاهدانو د موبایلونو ضبطول د اندېښنې وړ بولي او زیاتوي چې ښايي په موبایلونو کې د پېښې په اړه مهم معلومات او ثبوتونه موجود وي.**

**د یادولو ده چې له دغې پېښې څخه ۴۰ ژوندي پاتې شویو کسانو د روان کال د سپتمبر د میاشتې په ۱۳مه د پیرې سمندري محکمې ته د حکومت پر وړاندې شکایت ثبت کړی و.**

**دغو کډوالو چې شېړو مرستندویه سازمانونو یې حقوقي ملاتړ کاوه په یوه خبرپاڼه کې ویلي وو، یوناني چارواکو له قانون څخه سرغړونه کړې ده او د کښتۍ د سپرلیو ژغورنه کې پاتې راغلي دي. دوی د «چټکو، ژورو او د باوري تحقیقاتو « او همداراز د پېښې عاملینو ته د سزا غوښتونکي شوي وو.**

**تر دې دمخه عيني شاهدانو ويلي وو چې ياده کښتۍ د ساحلي ځواکونو د اقداماتو له امله نسکوره شوې. همدارنګه بي بي سي په يوه تحقيق کې موندلې وه چې د کډوالو کښتۍ د يونان ساحلي اوبو کې ولاړه وه او بېړنيو مرستيو ته يې اړتيا درلوده. دغه څرګندونې د يوناني چارواکو له هغو خبرو سره په ټکر کې دي چې ويل يې د کډوالو کښتۍ د ايټاليا پر لور روانه وه. دغه چارواکي د رسنيو د راپورونو په ردولو سره ټينګار کوي چې «ساحلي ځواکونو له نړيوالو قوانينو سره مطابق عمل کړی دی.«**

## بریتانیا: پولیس درباره «مرگ ناگهانی» یک پناهجو در سرپناه شناور تحقیق می کند

مهاجرنیوز



© Andrew Matthews/AP Photo/picture alliance

**پولیس بریتانیا در حال تحقیق راجع به «مرگ ناگهانی» یک پناهجو در شناور بی بی استوکهولم است .رسانه ها می گویند که این مرد احتمالا در پی خودکشی جان سپرده است.**

**یک سخنگوی پولیس در ناحیه «دورست «روز سه شنبه به خبرگزاری های بریتانیا از جمله اسوشیتدپرس، گفت: «روز سه شنبه (۱۲ دسمبر) پولیس دورست به ساعت ۶:۲۲ دقیقه گزارشی راجع به مرگ ناگهانی یکی از ساکنان شناور بی بی استوکهلم دریافت کرد. ماموران پولیس در حال تحقیق راجع به این واقعه هستند. به دفتر طب عدلی در این باره گزارش داده شده است.«**

**گفته می شود که در زمان وقوع این سانحه، حدود ۳۰۰ مهاجر در سرپناه شناور بی بی استوکهولم به سر می برند. حکومت بریتانیا وعده داد که در این باره تحقیقات جامعی را انجام می دهد.**

**روزنامه گاردین شام روز سه شنبه گزارش داد که گمان می رود این مرد در دهه ۲۰ زندگی اش بوده باشد و ظاهرا یکی از هم اتاقی هایش او را پیداکرده است.**

**بیشتر بخوانید :رسانه ها: لندن می خواهد ۵۰۰ مهاجر را در یک سرپناه شناور اسکان دهد**

**جیمز کلیورلی، وزیر جدید داخله بریتانیا وعده داده که درباره مرگ این پناهجو «تحقیقات جامعی» انجام می شود.**

**دلیل مرگ این مرد پناهجو هنوز تایید نشده است**

**دلیل مرگ این مرد پناهجو هنوز به صورت رسمی تایید نشده است. اما بسیاری از رسانه ها در بریتانیا به نقل از منابع شان می نویسند که او دست به خودکشی زده است.**

**أنور سولومون، رئیس اجرایی شورای آوارگان روز سه شنبه در یکی از ستون های گاردین از این مرگ به عنوان یک واقعه «تراژیک» یاد کرد.**

**سولومون در این ستون نوشته است: «در حالی که ما هنوز از دلایل این مرگ غم انگیز و پس زمینه فرد جان باخته آگاهی نداریم، [این را می توانیم بگوییم که] زندگی این افراد به خطر افتاده است. آن ها [پیش از این نیز] متحمل آسیب روانی شدیدی شده اند». او در ادامه نوشته است: «زندگی این افراد بسیار شکننده است. آن ها مجبور بوده اند بر دشواری های غیر قابل تصوری غلبه کنند.«**

**»حداقل امکانات طبی» برای پناهجویان در این کشتی**

**حکومت بریتانیا قبلا گفته بود که همه اقدامات لازم را برای محافظت از پناهجویان در این سرپناه شناور انجام می دهد. اما به گفته سولومون، ساکنان این سرپناه »حداقل کمک های طبی» را دریافت می کنند. براین اساس گرچه یک پرستار در این کشتی حضور دارد، اما دسترسی روزانه به خدمات روانشناسی وجود ندارد.**



نمایی از بی بی استوکهلم در بندر پورتلند که در نزدیکی دورست قرار دارد

سولومون در ادامه گفت که در ماه سپتمبر در یک هوتل محل سکونت پناهجویان در شهر شمالی ویک فیلد جسد یک مرد ۳۷ ساله پیدا شد که دست به خودکشی زده بود.

شورای آوارگان: درجه ای جدید از «افراط گرایی» در سیاست پناهندگی بریتانیا

سولومون در ادامه می نویسد که سیاست مهاجرت بریتانیا در طول نخست وزیری ریشی سوناک، به سطح جدیدی از افراط گرایی رسیده است. او از رابرت جنریک، وزیر مهاجرت سابق یاد کرد که دستور داده بود، در یک مرکز پذیرش برای کودکان، رسامی ها دوباره با رنگ آمیزی پوشانده شوند «زیرا او فکر می کرد که این رسامی ها بیش از حد (در برابر پناهجویان) دوستانه بوده و باعث ایجاد سوتفاهم می شود.«

به گفته سولومون، رئیس شورای آوارگان، شمار ساکنان بی بی استوکهولم از ۲۰۰ تن به تقریبا ۵۰۰ تن رسیده است. او گفت: «این تجلی دیگری است از آرزوی (سیاستمداران بر سر قدرت) که نمی خواهند یک قدم بیشتر از آن چه که لازم است برای پناهجویان بردارند.«

سولومون گفت، احساس می کند که «انسانیت و نجابت» در سیستم پناهندگی بریتانیا از دست رفته است .او گفت: «آن دسته از ساکنان بی بی استوکهلم که جرات اظهار نظر دارند، می گویند، خود را مانند قربانیان یک گیم احساس می کنند. گیمی که سیاستمداران آن را بازی می کنند.«

»تنش های رو به افزایش«



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**یک منبع به گاردین گفت که با انتقال شمار بیشتری از پناهجویان به این کشتی، »تنش نیز در آن افزایش یافته است«. بنا به گزارش ها برخی از ساکنان این شناور شنبه شب در شهر مجاور ویموت در واقعه ای دخالت داشته اند که به نوشته گاردین «شاید با مرگ (این پناهجو) ارتباط داشته باشد.«**

**یکی از ساکنان این شناور به گاردین از تنش میان پرسنل و پناهجویان گفت. او گفت که ورود و خروج به این کشتی خیلی وقت می گیرد و «ما را قبل از این که جایی برویم، شدیدا کنترول می کنند«.**

**این پناهجو که نمی خواست نامی از او برده شود، گفت: «اما ما خلافکار نیستیم، بلکه می خواهیم امنیت داشته باشیم». این مرد افزود: «برخی از پرسنل کشتی رفتار خشنی با ما دارند. اما ما این جا آمده ایم تا امنیت داشته باشیم». او در ادامه گفت: «مردی که جان باخته، شدیدا احساس بدبختی می کرده است.«**




**تخت های دوطبقه در کابین های کشتی بی بی استوکهلم که حالا به محل سکونت پناهجویان تبدیل شده است./عکس : picture alliance, July 21, 2023**

**به گزارش گاردین، مات راک، دبیرکل اتحادیه قوای اطفائیه گفته است که این شناور باید با سرعت هرچه بیشتر مسدود شود.**

**راک که خود را در شبکه ایکس (قبلا توییتر) «یک سوسیالیست می خواند»، در طول فصل تابستان نیز از شرایط امنیتی در کشتی انتقاد کرده بود.**

**بیشتر بخوانید :بریتانیا: اسکان دوباره پناهجویان در کشتی بیبی ستوکهولم**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

راک گفت درست است که هنوز دقیقا معلوم نیست چه عواملی به مرگ این پناهجو منجر شده است، اما با مجبور کردن مردم به ماندن در یک زندان شناور، مشکلات امنیتی ایجاد می شود که نمی شود آن ها را نادیده گرفت. او افزود: «وزیران باید فورا به این عملکرد بی رحمانه پایان دهند.»

یک پناهجوی دیگر دراین شناور گفت که مرگ این مرد او را غافلگیر نکرده است. او گفت که «این واقعه برای هیچکس غیرمنتظره نبوده است. خودکشی پناهجویان در نتیجه سیاست های وزارت داخله رخ می دهد که مردم را به سکونت در این کشتی مجبور می کند .هرچه بیشتر آن ها ما را در این جا نگه دارند، وضعیت روحی ساکنان این شناور پیوسته بدتر خواهد شد».

این مرد در ادامه گفت که برای وزارت داخله یک پیام ساده دارد و افزود: «چه تعداد انسان دیگر باید جانشان را از دست بدهند، تا شما متوجه شوید که در زمینه برخورد با پناهجویان مسیر اشتباهی را در پیش گرفته اید»؟

***

این مضمون با استفاده از اطلاعات خبرگزاری فرانسه، رویترز و «Press Association» نوشته شده است.

## حکم محکمه بریمن: قطع کمک های دولتی برای پناهندگان به کلیسا قانونی است

مهاجرنیوز




بنا به حکم یک محکمه در بریمن، اگر پناهندگان کلیسا های آلمان از منطقه ای که مسئولان به آن ها اختصاص داده اند، بیرون شوند، حق دریافت مزایای اجتماعی را از دست می دهند .

**این تصمیم می تواند در آینده به یک رویه قضایی تبدیل شود و قاضیان شاید در دوسیه های مشابه برای صدور حکم به آن رجوع کنند.**

**قاضیان مسئول گفتند که هدف آن ها از صدور این حکم جلوگیری از مهاجرت غیرمجاز در داخل آلمان است. به این خاطر پناهجویان ملزم به زندگی در مکانی هستند که به آن ها اختصاص داده شده است.**

**این حکم در واکنش به شکایت یک زوج عراقی در محکمه اجتماعی ایالت نیدرزاکسن صادر شده که در این منطقه درخواست پناهندگی داده بودند. سپس حکم صادر شده به تایید محکمه بریمن رسید.**

**زوج یاد شده که درخواست پناهندگی شان در سویدن رد شده بود، از طریق آن کشور وارد آلمان شدند.**

**اما آلمان نیز درخواست آن‌ها را رد کرده و اعلام کرد که بنا به مقرره دابلین، باید به سویدن بازگردند. براساس این مقرره، کشوری که مهاجر برای نخستین بار به آن جا وارد شده است مسئول رسیدگی به درخواست پناهندگی است.**

**بیشتر بخوانید :<u>پناهندگی کلیسایی یک شهروند روسیه در براندنبورگ پایان یافت</u>**

**در نهایت اخراج این زوج به سویدن ناکام ماند. چرا که مسئولان نتوانستند آن ها را در محل سکونت شان پیدا کنند. آنان در زاکسن انهالت مرکزی را که در آن جا اسکان داده شده بودند، ترک گفته بودند.**

**دریافت کمک های دولتی برای پناهجویان فقط با سکونت در مکان تعیین شده ممکن است**

**مسئولان بعدا متوجه شدند که این زوج از سوی یک ناحیه کلیسای پروتستانت در بریمن پناهندگی کلیسایی دریافت کرده است. در چارچوب یک توافق دوطرفه بین کلیساها در آلمان و سطوح مختلفی حکومتی، اجرای احکام اخراج برای پناهندگان به کلیسا ممکن نیست، مگر این که راه حل دیگری پیدا نشود.**

**در حالی که این زوج در ناحیه پروتستانت بریمن در پناهندگی کلیسایی به سر می برد، برای دریافت کمک های دولتی درخواست ارائه کرد. پناهجویان در آلمان بنا به قانون «Asylbewerberleistungsgesetz»مستحق دریافت مزایای اجتماعی معینی هستند .این زوج برای تهیه نیازهای اولیه مانند لباس، غذا و خدمات طبی چنین درخواستی را ارائه کرده بود. آن ها گفتند که مسئولان در کلیسا نمی توانند در درازمدت نیازهای اولیه شان را برآورده کنند.**

**درخواست آن ها برای دریافت مزایای اجتماعی در ناحیه ای ارائه شد که این زوج از آن جا برای دریافت پناهندگی کلیسایی فرار کرده بود.**

**مسئولان این ناحیه که در زاکسن انهالت قرار دارد، این درخواست را رد کرده و گفتند، از آن جایی که این دو دیگر در آن جا زندگی نمی کنند، آن ها دیگر موظف به کمک نیستند.**

**ترس از اخراج دلیل معقولی نیست**

**محکمه اجتماعی در بریمن حکم رد پرداخت مزایای اجتماعی را که در زاکسن انهالت صادر شده بود، یک بار دیگر مورد بررسی قرار داد و بعد مجددا تایید نمود.**

**پس از ارائه درخواست تجدیدنظر، محکمه اجتماعی ایالتی تصمیم بریمن را تایید کرد و گفت که اعطای کمک های اجتماعی فقط با اقامت این زوج در زاکسن انهالت ممکن است.**

بیشتر بخوانید :ایالت نورد راین وستفالن: پس از برهم زدن پناهندگی کلیسایی، اخراج زوج پناهجو لغو شد

در ادامه براین تاکید شده که این زوج می توانست به آن جایی بازگردد که تامین نیازهای اولیه اش تا زمان اجرای حکم اخراج به سویدن تضمین شده باشد.

آن ها تا زمانی که در بریمن در پناهندگی کلیسایی به سر می برند، فقط می توانند هزینه های خوراک و در موارد معینی هزینه های سفرشان را دریافت کنند.

بنا به این حکم، این زوج نتوانسته دلیل قانع کننده ای برای این بیاورد که چرا بازگشت آن ها به زاکسن انهالت غیرمعقولانه است و ترس از اخراج به سویدن یک دلیل کافی به شمار نمی آید.

در آینده ممکن است که از این حکم برای تصمیم گیری در دوسیه های دیگر با جزئیات مشابه استفاده شود .